مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۱/۱۰/۱۳

# ورک تاتوبی

تل کوم له خپله ځانه دا ښو سواله
چې ژوندون کړې ولې داسې سربداله

زمانه دې پر مذاق ځله نه درومی
دا پر څه داسې بې سبکه سوې کهاله

هر قدم دې درته پاڼ و ګړنګونه
درته ولې هر ممکن ښکارې محاله

خوند د خولې دې ولې تریخ تر هلاهل دئ
ولې ګرزې پر ګوښو له آل عیاله

د ماشوم په شان لګیا یې سپوږمی نیسې
د ګل تمه څله کاندې له کاندیاله

*****

د ژوند مراد که معیشت دئ، خو لرې ئې
شکر ئې هر وخت دئ لازم له ذوالجلاله

وسایل د ابرومند ژوند میسر دي
نس دي موړ د اغنیاوو له جواله

په عزت، په درناوی و په ستاینه
پاته نه یې په هیڅګونې تر خپل سیاله

که داکتر دئ که دوا ده که درمل دي
درته رسي په هر وخت کي دم درحاله

مشغولا چي د کتاب و د قلم ده
در رسیږي بې تکلیفه بې جنجاله



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

*****

نا راضي دي ده پر څه، ولي خپه یې
شاکي څله یې له بخت و له اقباله

تر زړګي دي ولي سرې وینې څڅېږي
خلاصېده دي ولي نسته له دې جاله

په ځواني و په هستي و په مستي کي
د پیرۍ تر وخت نو کله وې خوشاله

منم دا چي په هجران کي خوښي نسته
حیرانیږم خپه څله له وصاله

*****

زما یقین دئ چي سبب ئې پردېسي ده
در څه ورک دئ خپل ټاټوبی خپله ځاله

غټه درخته چي بیځایه سي وچېږي
توقع د شنه کېدو وي له نهاله

مېشت پر داسي مځکه سوې په زړتابه کي
چي ایله دي دریم پښت سي پرې برحاله

ستا ریښه له داسي مځکي راوتلې
چي اولس ئې نه ارام وو نه سوکاله

تول تاریخ ئې لیکل سوی وو په وینو
مفاخر ئې ول له توري او له ډاله

علم و پوهه وه ترې لیري ساتل سوې
ناخبره د جهان له حال احواله

یو ناڅاپه پرې را مات سول سېلابونه
نتیجه ئې بل څه نه سوه بې زواله

ځوک په مرګ ځوک په ژوندون ورک سول له کوره
هست و نیست سول ځني پاته له ناخواله

پر ملکو د دنیا داسې سره تیت سول
چي تاریخ ئې دئ عاجزه له مثاله

چلینجونو ته د وخت هسي بې وس سول
لکه ځوک چي کا الوت بې پر وباله

په دې حال کي به نو ولي ځوک آرام وي
هر بشر پر دې حال لوېږي له پارکاله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

که انسان تر کاڼي کلک پر مصیبت دئ
خو تر ګل بیا دئ نازک هم زما لاله

دوه تحقیره سول راپوري په ژوندون کي
که هرڅو وو له ویاړونو مالاماله

مهاجر هر وخت مبلمه دئ نابللی
نوم د خپل به پیدا نه کړي په سل کاله

ددې ځای په نظر هر وخت خارجي یو
هیوادوال مو بیا شکمن پر پښتنواله

هم په دې ځای کي تر مرګه پردي پاته
هم به هلته بېګانه له هیوادواله

تر خوله خېژي په دردونو کي آهونه
هیڅوک نه وایي په غم کي بابولاله

ګرم ئې مه بولئ نیازمنو، هجران سخت دئ
ملامت نه دئ "معصوم" له قیل و قاله

آشاوا, کانادا
ځورلسمه د اګست 2020ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ